

# "مه هیروئ!"

ژباړه (په څه بدلون سره):
ډاکټر غنچه ګل ارمان

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: جنت د مور له پښو لاندې دی.

در رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیث مفهوم دی: هغه دوړي او ګرد چي د خدای په لاره کي د چا په بدن پریوځي، نه یوازي د دوزخ اور، بلکي د جهنم دود هم پر بدن حراموي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: که اوسپنيز ميخ د يوه مؤمن په سر کې لاړ شي، له دې نه به ور ته غوره وي چې په نامحرمه ښځه يې لاس ولګيږي.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم د حديث د مفهوم پر اساس درې کسان بدبخت دي:

۱ـ هغه څوک چې خپل مور او پلار
یا یو یې د زړښت په وخت کې
وموموي او (دی د هغوی د
خدمت له برکته) جنت ته داخل
نه شي.

۲- هغه کس چې د روژې میاشت پرې تیره شي، او دی پکې د الله له خوا د بخښنې وړ و نه ګرځي.

۳ـ هغه کس چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د نوم په اوریدو پرې درود و نه وایي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیث مفهوم دی چې کومه ښځه چې خپل بدن له نامحرمو څخه نه پټوي، تنګ او نامناسب کالي اغوندي او د نورو د پارونې لامل ګرځي، د جنت بوی به پرې و نه لګیږي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:
هوښيار انسان هغه دى چې خپل نفس وپيژني او له مرګه وروسته ژوند له پاره ځان چمتو کړي.

د حیرانتیا خبره ده چې مونږه د ورځپانو، مجلو او نورو خپرونو په خبره په اسانی باور کوو، مګر د الله په کلام بې باوره یو (او دلیلونه ور ته لټوو)!؟

د حيرانتيا خبره ده چې ټول غواړي جنت ته لاړ شي، مګر... نه په قرآني ايتونو باور لري، نه يې په اړه فکر کوي، او نه هم قرآني غږيږي.

د تعجب ځای دی چې وایو په الله ایمان لرو او بیا (له یوه مخه) د شیطان په لار روان یو!

د حیرانتیا خبره ده چې په زرګونو ټوکې، او خندوونکي مطالب پرته له دې چې د پایلو په هکله یې فکر وکړو، خپلو ګڼو ملګرو ته لیږو، مګر د دیني پیغام په لیږلو کې بیا زړه نازړه کیږو!

د تعجب ځای دی چې شهوت پاروونکې توکې، کیسې، لطیفې او نورې بې ګټې خبرې په څومره پراخه کچه زمونږ په ورځني ژوند کې یو له بل سره شریکوو، مګر د دیني لارښوونو په هکله مو خوله ګونګه وي!

# د حيرانتيا ځاى نه دى؟

د حيرانتيا ځای دی چې کله غواړو دا او ورته نور ديني پيغامونه خپلو ملګرو ته وليږو، په اړه يې زړه نازړه کيږو چې خوښ به يې شي، که نه!

د تعجب ځای دی چې زمونږ له پاره دا خبره چې نور مو په اړه څه ډول قضاوت کوي، مهمه ده، مګر له دې څخه چې الله به مو په اړه څه قضاوت کوي، بې پروا یو!

څه فکر کوئ؟ امکان لري چي دا پیغام له خپلو ملګرو سره شریک کړئ؟

د مهربانۍ له مخې خپل یوه دقیقه وخت
دې ته بیل کړئ چې لومړی ځان، د دې
پیغام ترتیبوونکو او ټولو مسلمانانو ته
دُعا وکړئ او بیا دا پیغام له خپلو ملګرو
سره شریک کړئ.

دا سلایډ له اصلاح انلان څخه راښکته شوی.

د نورو له پاره له دې لارې ورتلی شئ:

اصلاح انلاین

http://eslahonline.net

Abdullah-Ulfat